**بسم الله الرحمن الرحیم**

## په هلسینګي کې د امریکا او روسیې تر منځ دوه اړخیزه ناسته




**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

د امریکا او روسیې ولسمشرانو د ۲۰۱۸ م د جولای پر ۱٦مه د فنلنډ په پلازمېنه هلسینګي کې له یو بل سره لیده کاته او خبرې وکړې. ایا دغه لیدنه د دواړو دولتونو تر منځ د شخړو پای ته رسېدو مانا لري او ایا دغه لیدنه د ۲۰۱۸ م د جولای پر ۱۲مه د ناټو هېوادونو په ناستې او له دغې ناستې څخه راټوکېدولو شخړو پورې اړه لري او که نه؟ بله دا چې دغه خبرې به د چین او روسیې پر اړیکو اغېز وکړي؟ او وروستۍ پوښتنه دا چې دغه لیدنه د سوریې د قضیې په حلولو کې اغېز لري؟

**ځواب:**

له اوږدې مودې وروسته چې د امریکا او روسیې تر منځ په اړیکو کې د شخړو راپورته کېدو تېرېږي، د دواړو هېوادونو تر منځ په لوړه کچه لیدنې بندې شوې وې. دغو شخړو له ۲۰۱۴ م کال وروسته او هغه وخت زور واخیست چې روسیې د کریمیې جزیره خپله کړه. امریکا او اروپا د روسیې د دغه اقدام په غبرګون کې پر روسیې اقتصادي بندیزونه ولګول. یادې شخړې د اوباما د حکومت په وروستیو کې د ټرامپ په ګټه په ټاکنو کې د روسیې د لاسوهنې په تورنېدو لوړې کچې ته ورسېدې او له هغه وروسته د دواړو هېوادونو تر منځ په لوړه کچه لیدل بند شول. که څه هم د دواړو هېوادونو ولسمشرانو له دغې لیدنې وړاندې دوه ځلې له یو بل سره لیدلي وو، دوی لومړی د ۲۰۱۷ م د جولای په میاشت کې په هامبورګ کې د ۲۰ هېوادونو په ناسته او په بیا یې د ۲۰۱۷ م د نومبر په میاشت کې په ویتنام کې په یوه اقتصادي غونډه کې له یو بل سره لیده کاته او خبرې وکړې؛ خو دغه لیدنه د یوې ناستې په کچه وه او د مهمو قضیو د څېړنې لپاره وخت نه و.

د ټرامپ د حکومت په یو نیم کلنه دوره کې روسیې په ځلونه دا هڅه وکړه چې د دواړو هېوانونو ولسمشران په یوه ګډه خبري غونډه کې خبرې وکړي؛ خو امریکا پرلپسې دا ډول غونډې ځنډولې او د دغه کار موخه یې پر روسیې فشار راوړل و. روسیه تل په دې تمه وه چې ټرامپ د دواړو هېوادونو تر منځ د دوه اړخیزو اړیکو ښه کېدو لپاره نوښت وکړي، خو په عین حال کې یې دا هم درک کوله چې ټرامپ د داسې کار لپاره له ډېرو ستونرو سره لاس او ګېروان و؛ ځکه امریکا د ټرامپ د تګلارو په دلیل سره د مخالفتونو له لویو څپو سره مخه ده، چې ځینې پایلې یې د روسیې پر وړاندې په څېړنه او له روسیې سره د ټرامپ د اړیکو له امله د نوموړي د ټیم د ډېر شمېر غړو په استعفا کې لیدلی شو.

په همدغه ترتیب، له امریکا سره د یوې ناستې په کچه بشپړه لیدنه، تل د روسیې له لویو هیلو څخه همداسې پاتې شوه، چې روسان یې په پوره کېدو کې پاتې راغلي وو او دغه کار هغه وخت شونی شو چې امریکا پخپله د دا ډول ناستې هوډ ونیو. په دې اړه د امریکا د ملي امنیت شورا ویاند هاریت مارکویس د ۲۰۱۸ م د جون پر ۲۱مه اعلان وکړ چې د ملي امنیت په چارو کې د امریکا د ولسمشر سلاکار بولټون به د رواني میاشتې په وروستیو کې مسکو ته لاړ شي، چې د امریکا او روسیې تر منځ د ګډې ناستې لپاره لازمه همغږي وڅېړي.» (سرچینه: سپوټنیک روسیي خبري اژانس، ۲۰۱۸ م د جولای ۲۴مه) پر همدې بنسټ، تر ټولو مهم څیز چې باید د ۲۰۱۸ م د جولای پر ۱٦مه په دغه لیدنه کې وڅېړل شي، دا دی چې ولې امریکا د دواړو هېوادونو د ولسمشرانو تر منځ د دا ډول ناستو هوډ ونیو او امریکا د دغو لیدنو په ترڅ کې د څه شي په لټه کې ده؟ د دغې پوښتنې د څېړلو لپاره پر لاندې مواردو بحث کوو:

۱- ټولې نښې دا ښیي چې پر روسیه د امریکا فشارونه بیاهم روان دي، لکه څنګه چې د دغې ناستې تر جوړېدو دوې ورځې وړاندې امریکا د روسیې یو شمېر استخبارات پر دې تورن کړل چې د امریکا په ټاکنو کې یې لاسوهنه درلوده. د امریکا عدلیې وزارت د روسیې د استخباراتو ۱۲ تنه مامورین پر دې تورن کړل چې د ۲۰۱٦ م کال په ټاکنو کې د امریکا د ډیموکراټ حزب د چارواکو انټرنټي حسابونو ته دننه شوي دي. د امریکا د عدلیې وزیر مرستیال رود روزنشټاین وویل چې دغو تورنو «په نېزه ښکار» تر سرلیک لاندې له پیغامونو څخه په ګټې اخیستنې او په ځینو کمپوټري پرګرامونو سره دغه کار کړی دی. سپنې مانۍ اعلان وکړ چې د ټرامپ او پوتین تر منځ لیدنې به پر ټاکلې نېټې تر سره شي» (سرچینه: د الغد مصری ورځپاڼه، ۲۰۱۸ م د جولای ۱۴مه) په ورته وخت کې، په هلسینګي کې د ټرامپ او پوتین تر منځ له کتنو وروسته الجزیرې شبکې اعلان وکړ چې امریکا یوه روسۍ مېرمن په واشنګټن کې د روسیې لپاره د جاجوسی په تور ونیوه.

هغو اقدامونو ته په کتو کې چې د امریکا د حکومت دستګاوو د روسیې پر وړاندې تر سره کړل، داسې تمه نه کېږي چې د دواړو ولسمشرانو د لیدنو له امله دې پر روسیه د امریکا فشارونه راټیټ شي او دا په دې مانا ده چې امریکا د نورو انګېزو درلودو پر بنسټ دې ته چمتو شوې چې روسیه د دواړو د لیدنو لپاره د روسیې پخوانۍ او نوې غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړي. دغه انګېزې د دغې لیدنې د چاپېریال شرطونو ته په کتو سره څېړلی شو.

۲- د امریکا او روسیې تر منځ لیدنې پر داسې مهال تر سره کېږي چې امریکا له خپل لوی سوداګریز دښمن سره په جګړه ده: یوه اورپایي ټولنه او بل چین. په ښکار له دغو لیدنو څخه د امریکا موخه د دغو دوو دښمنو پر وړاندې له روسیې څخه ګټه اخیستل دي.

د اروپایي اتحادیې په اړه: امریکا هوډ وکړ چې په بروکسل کې د ناټو د غړو تر ناستې او د امریکا او اروپایي ټولنې تر منځ له ژورو اختلافونو وروسته ژر تر ژره له روسیې سره وګوري. «په بروکسل کې د ناټو غړو هېوادونو ناسته پر داسې مهال پیل شوه چې تمه کېږي

ډېرې شخړې رامنځته شي؛ په ځانګړي ډول د واشنګټن او اورپايي ملاتړو تر منځ د هغو اختلافونو پر سره چې په سوداګريز سکټور، دفاعي لګښتونو او له ايران سره په اټومي هوکړه کې دوام لري. د ناټو سرمنشي ينس استولټنبرګ ومنله چې د دغو پلويانو تر منځ د نظر اختلافونه شته دي.» (سرچينه: نن روسيه، د ۲۰۱۸ م د جولای ۱۱مه)

د امريکا ولسمشر ټرامپ د لومړي ځل لپاره د اتلانتيک ترون د غړو هېوادونو تر منځ د دوه اړخيزو اړيکو په تاريخ کې اورپايي ټولنې ته د دښمنۍ خطاب وکړ. له روسانو سره ليدنه پر اورپايي ټولنې د امريکا د فشارونو لګولو تر ټولو مهم ابزار و. نور جزيات په لاندې ډول دي:

الف) د امريکا ولسمشر اروپايانو ته ګواښ وکړ چې د اوکراين په اړه له روسيې سره خبرې وکړي، چې په دې اړه د اروپا د شورا رييس ډونالډ ټوسک پخپلو څرګندونو کې وويل: «ډونالډ ټرامپ راته وويل چې د اوکراين پر وړاندې د روسيې د سياست انګېزو د اوکراين پام ځانته اړولی دی او دايې منلې چې د اوکراين په اړه يې لږ احساسات درلودل. ټوسک، چې له TVN24 ټلويزيوني شبکې سره خبرې کولې، زياته کړه: «ډونالډ ټرامپ چې له ماسره خبرې کولې، هېڅ وخت يې دا هڅه نه کوله چې د اوکراين د قضيې په اړه خپل کمزوری احساس پټ کړي او داسې تر سترګو کېږي چې نوموړی څه چې روسيې په اوکراين کې تر سره کړل، پراخه نظر لري. (سرچينه: نن روسيه، ۲۰۱۸ د جولای ۱۵مه) هغه څه چې قضيه حساسوي دا دي چې د امريکا ولسمشر د نړۍ د اوو سترو هېوادونو په غونډه کې اعلان وکړ: «روسيې ځکه کريمه له خپل ځان سره الحاق کړه چې د هغه ځای ډېرو اوسېدونکو په روسي ژبه خبرې کولې.» (سرچينه: نن روسيه، ۲۰۱۸ د جولای ۱۵مه) په اروپا کې دا خبره ډېره حساسه مسئله ده، ځکه اورپايان په اوکراين کې د روسيې کړنې د ټولې نړۍ د امنيت لپاره ګواښ بولي. دوی په دې نظر دي چې دغې قضيې ته بايد په سپک نظر ونه کتل شي. همدا دليل دی چې په دې اړه د ټرامپ څرګندونې د اورپايي ټولنې په نظر د اورپا لپاره ډېرې ګواښوونکې بلل کېږي، ځکه دغه څرګندونې د سرحدي حريم ماتولو لپاره اروپا ته د شين څراغ ښودلو او له ختيځ څخه د اورپا د نقشې له منځه وړلو په مانا دي.

ب) د نړۍ اوو سترو صنعتي هېوادونو ته د روسيې د بيرته ستنېدو په اړه اورپايانو ته د ټرامپ ګواښ: «د امريکا ولسمشر د ۲۰۱۸ م د جون پر ۸مه د نړې د اوو سترو صنعتي هېوادونو له نورو غړو وغوښتل چې دغې ډلې ته د روسيې د بيرته ستنېدو په اړه فکر وکړي. ټرامپ په دغه ناست کې د ګډون لپاره کاناډا ته تر سفر وړاندې وويل: «هغوی روسيه له دې ډلې بهر کړه او اوس اړ دي چې بيرته روسيه په دغه ډله کې شامله کړي؛ ځکه روسيه بايد زموږ په دغه ناسته کې له موږ سره په خبرو کې ګډون ولري.» د يادولو وړ ده چې روسيې د کريميې تر الحاق وروسته د اتو هېوادونو له ډلې ووتله او وروسته له دې دغه ډله يوازې اووه غړي لري.» (سرچينه: العربيه نټ شبکه، ۲۰۱۸ م د جولای ۸مه)

ج) الجزيرې شبکې د ۲۰۱۸ م د جولای پر ۱۵مه يعنې د ناټو د غونډې تر پای ته رسېدو وروسته په راپور کې داسې وويل: «د اروپا مشران د امريکا او روسيې له نږدې کېدو څخه وېرېدلي دي.» د روسيې او امريکا له نږدې کېدو څخه د دغه لوی خطر د احساس يوه نښه د المان د بهرنيو چارو د وزير څرګندونې دي: «د المان د بهرنيو چارو وزير هايکو ماس ډونالډ ټرامپ ته ګواښ وکړ چې کېدايشي ډونالډ ټرامپ د روسيې له ولسمشر پوټين سره د ليدنو په دوام کې د خپلو اروپايي ترون کوونکو په استازيتوب يوه اړخيزه معامله ونه کړي. ماس چې له (Bild) ورځپاڼې سره مرکه کوله، زياته کړه: «د ترون کوونکو په استازيتوب به هر ډول يو اړخيزه معاله امريکا هم زيان منه کړي. له شک پرته څوک چې خپلو ترون کوونکو ته زيان ورسوي، اصلي بازي له ګواښ سره مخه کوي.» (سرچينه: نن روسيه،

۲۰۱۸ م د جولای ۱۵مه» د امریکا او روسیې نېږدې کېدل شاید اورپا ته زیانونه ورسوي، ځکه چې د دې لامل ګرځي چې پر روسیه د اروپا لګېدلي بندیزونه د کریمیې د قضیې په دلیل سره، چې هر شپږ میاشتې غځېږي، بې اغېزې شي او هغه وخت به روسیه اروپایي دولتونو ته پام ونه وکړي.

د) د امریکا ولسمشر ټرامپ، چې سیاسي حکومت نه لري، د اروپا پر وړاندې له ښکاره بریده لاس نه اخلي، په ځانګړي ډول د روسیې د ګازو په اړه چې پر المان یې پلوري. څنګه چې د ۲۰۱۸ م د جولای پر ۱۷ مه مو د یوې پوښتنې په ځواب کې هغه ته اشاره وکړه چې هغه یو ځل اروپایي ټولنې ته دښمنه وویله، بیا نور د اروپا پر وړاندې راپاروي، څنګه چې په لندن کې ټرامپ د انګلیس له نومورې سره په لیدنه کې نومورې ته نصیحت کاوه. «ټرامپ له بي بي سي سره د ټرامپ د نصیحت په اړه د پوښتنې په ځواب کې وویل: نومورې ماته وویل چې زه باید له اروپایي ټولنې سره د خبرو پر ځای، یاده ټولنه ټینګه کړم.» (سرچینه: بي بي سي، ۲۰۱۸ م د جولای۱۵مه) که څه هم انګلیس په ښکاره دا هوډ لري چې له اروپایي ټولنې ووځي، خو د روسیې په اړه له اروپایي ټولنې سره یو ډول نظر لري او لېرې نه ده چې د امریکا او روسیې د لیدنو ګډوډلو په موخه د روسیې پر وړاندې د انګلیس اقدامونه تر سره شي. Mil Radar سایټ چې د هوایي خوځښتونو په اړه فعالیت کوي، پخپل خبر کې وویل چې د انګلیس په هوایي ځواکونو پورې اړونده یوه الوتکه د روسیې د کریمیې د شبه جزیرې په سواحلو کې الوتنه کړې او اطلاعاتي عملیات یې تر سره کړي.» (سرچینه: نن روسیه، ۲۰۱۸ م د جولای ۱۵مه)

په همدې ترتیب، پر اروپا د امریکا فشارونه، چې هغه اوو سترو صنعتي هېوادونو ته د روسیې بیرته ګرځول، په غیر مستقیم ډول د روسیې د خاورې په توګه د کریمیې د جزیزې په رسمیت پېژندل، د دغه هېواد په ختیځ کې د روسي وګړو د بریدونو پر وړاندې د اوکراین نه ملاتړ ته په بې پامۍ (د ډونیتسک او لوغانسک څلور لارې ته» او د دوه اړخیزو غونډو له لارې د روسیې او امریکا اړیکې ښه کېدل؛ دغه ټول هغه لوی ګواښونه دي چې امریکا د اروپا پام ورته رااړوي. دغه ګواښونه که څه هم ټول په غیر مستقیم ډول تر سره کېږي، خو موخه یې دا ده چې امریکا له اروپا څخه غواړي چې د ناټو په لګښتونو کې ونډه واخلي؛ یعنې امریکا روسیې ته د نېږدې کېدو له لارې پر اروپایي ټولنې فشار راوړي او دغه له پوتین سره د ټرامپ د لیدنو بنسټیزې موخې تشکیلوي.

۳- د چین په اړه بیا قضیه دا ډول ده:

الف) د روسیې او امریکا د ولسمشرانو تر منځ لیدنه د چین په اړه هم داسې مهال تر سره کېږي چې امریکا له پیکینګ سره سوداګریزه جګړه پیل کړه. چین د امریکا لپاره خدمتونه تر سره کړل، د شمالي کوریا تند دریځ یې نرم کړ او په همدغه ترتیب امریکا د شمالي کوریا قضیه د سوله ییزو قضیو په نوملړ کې شامله کړه او د کوریا په جزیره کې یې د جګړې مسئله یوې خواته کړه. څنګه چې د شمالي کوریا او امریکا مشرانو د ۲۰۱۸ د جون پر ۱۲مه په سینګاپور کې له یو بل سره ولیدل او په دغه ترڅ کې چین ته د دغو لیدنو د زمینې برابرولو لپاره د امریکا د ولسمشر له لوري مننه وویله شوه. د یادو کارونو پر تر سره کېدو سربیره، امریکا د هغو سیاستونو عملي کول پیل کړل چې تر ولسمشر کېدو وړاندې یې د چین پر وړاندې اعلان کړي وو. امریکا په کلني ډول د چین پر وارداتو ۵۰ میلیارده ډالر مالیه وضعه کړې. چین یې په غبرګون کې د امریکا پر وارداتو ورته مالیې ولګولې. وروسته امریکا اعلان وکړ چې د چین د وارداتو په اړه نوې نقشه لري، چې پر بنسټ به یې هر کال پر چیني وارداتو ۲۰۰ میلیارده ډالره مالیه ولګول شي او دا هغه شمېره دي چې چین یې پر امریکا د لګولو توان نه لري؛ ځکه له امریکا څخه د چین د وارداتو ټولګه ۱۳۰ میلیارده ډالرو ته رسېږي، په داسې حال کې چې امریکا

ته د چین صادرات ۵۰۰ میلیارده ډالرو ته رسېږي. دغه نوې نقشه به چین دې ته اړ کړي چې د امریکا سوداګریزې جګړې ته نور وسایل او تګلارې ولټوي.

ب) د چین یوه تګلاره به دا وي چې روسیې ته ځان نږدې کړي، ځکه چې په چین د شانګهای سازمان غړو هېوادونو وروستۍ ناسته د ۲۰۱۸ م د جولای پر ۱۰مه او پر یو وخت یې د ۲۰۱۸ م د جولای پر ۹مه د اوو سترو صنعتي هېوادونو ناسته په کاناډا کې جوړه کړه؛ هغه ناسته چې روسیه په ۲۰۱۴ م کال کې ترې ایستل شوې وه.

دغه دوې غونډې پر دوو ټوټو د نړۍ د وېشل کېدو مانا لري، لودیځ په کاناډا کې راټولېږي او ختیځ په چین کې؛ خو دغه حالت د امریکا لپاره چې په ۱۹۹۱ م کال کې د شوروي اتحاد له تیت پرک کېدو وروسته پر نړۍ خپله ولکه ټینګه کړه، د خوښۍ وړ خبره نه ده. امریکا پر دې پوهېږي چې چین او روسیه د شانګهای سازمان دوه فعاله غړي دي او واشنګټن له دواړو سره ستونزې لري؛ لکه څنګه یې چې له چین سره یې عملا سوداګریزه جګړه پیل کړه، پر روسیه یې هم سخت بندیزونه ولګول. له بل لوري، امریکا پر دې هم پوهېږي چې شونې ده د چین او روسیې پر وړاندې د سیاستونو تر سیوري لاندې د یاد سازمان دغه دواړه غړي یو بل ته نږدې شي او اړیکې یې ټینګې شي. امریکا پر دې پوهېږي چې که دغه دواړه هېوادونه په نړیوال سیاست او سوداګرۍ کې دښمن وبلل شي، دغه سیاست به دواړو هېوادونو ته دا انګېزه ورکړي چې یو بل ته نږدې شي او تر منځ به د نظامي مرستو په کچه‌ون نورې مرستې هم ډېرې شي. څنګه چې دواړه هېوادونه به دا احساس کړي چې د یو دښمن پر وړاندې ودرېږي او هغه امریکا ده او دوه اړخیزه مرستې به یې وړتیا لوړه کړي.

روسیې ته د چین د دفاع وزیر سفر پیغام د دغه واقعیت ښودلو ښه بېلګه وه. «د روسیې دفاع وزیر سیرګي شویګو په مسکو کې خپل سیال وی فنګ خا ته ښه راغلاست وواېه. فنګ خا د یو نظامي پلاوي په سر کې او په مسکو کې د نړیوال امنیت په کنفرانس کې د ګډون په موخه روسیې ته لاړ. د چین دغه پلاوی د دې موخې لپاره مسکو ته لاړ چې امریکایان پر دې پوه شي چې د چین او روسیې د وسله والو ځواکونو تر منځ ټینګې اړیکې شتون لري؛ په ځانګړې ډول په روان حالت کې. د چین دفاع وزیر په دغه سفر کې وویل: «موږ دلته یو تر څو مرسته درسره وکړو او چین چمتو دی چې په برابره توګه د مهمو نړیوالو قضیو په اړه له روسیې سره ګډه اندېښنه څرګنده کړي او پر وړاندې یې واحد دریځ اعلان کړي.». (سرچینه: نن روسیه، ۲۰۱۸ م د اپریل ۳مه)

ج) نو پر همدغه بنسټ، امریکا پر دې پوهېږي چې روسیې ته نږدې کېدل او هیله ورکول به د دې لامل شي چې د روسیې او چین تر منځ واټن رامنځته شي او په وروستیو کې دغه سست ترون له بشپړېدو وړاندې د هغې بنسټیزې ستنې، په ځانګړي ډول په نظامي برخه کې ړنګې کړي. څنګه چې امریکا د روسیې پر نظامي وړتیا ښه خبره ده او پوهېږي چې که دغه وړتیا او یایې یوه برخه د چین له نظامي وړتیا سره یوځای شي، چین به سخت ځواکمن کړي او هغه ته به جرات ورکړي چې د امریکا د سیاستونو پر وړاندې ودرېږي؛ یعنې د واشنګټن غوښتنې ونه مني. واشنګټن دې پایلې ته رسېدلی چې د دغه کار څېړنه اسانه ده، ځکه روسیه هغه ناوړه اړیکې چې له غرب سره یې لري، شونې ده چې چین ته مخ وروګرځوي او د یوې نوې ستراتیژۍ په توګه له هغه سره مرسته وکړي او که چېرته امریکا په داسې شرایطو کې روسیې ته زړه ښه کړي، ځان ورته نږدې کړي او له فشارونو یې شاه ته شي، له چین سره له نږدې کېدو به ډډه وکړي.

دغو دلیلونو ته په کتو، واشنګټن دې پایلې ته رسېدلی چې روسیې ته د هیلې دروازې پرانیزي او اړیکې د دواړو هېوادونو د ولسمشرانو د لیدنو له لارې مخکښې حالت ته وګرځوي؛ یعنې چین ته روسیې د نېږدې کېدو درېدو په موخه. دا به ډېره ژر وي چې د روسیې او امریکا د ناستې او لیدنې د موخې په اړه نظر ورکړو او داچې شونې ده چې وروستی موخه یې مسکو ته نېږدې د امریکا په وروستیو ګامونو پورې اړه ولري؛ خو تر اوسه دا ادعا کولی شو چې امریکا د چین او روسیې تر منځ سست او مجهول تړون په اسانی ماتولی شي. امریکا د دغه کار د تر سره کېدو په لاره کې بې شمېره ګامونه اخیستلی شي؛ ځینې وختونه د روسانو پر لور، لکه دغه ګډه لیدنه او ځینې وخت چنایانو ته. ځکه له امریکا سره د چین سوداګریزې ګټې له مسکو سره تر هر ډول اړیکو لویې دي او لومړیتوب ورته لري.

۴- د دې لپاره چې د ټرامپ پیغامونه پر اروپایي ټولنې او چین اغېز وکړي، ټرامپ له پوتین سره ولیدل، تر څو په هر وخت کې لازمه وي، نوموړی وخوځوي، یعنې دغه به وروستي ګامونه وي. همدا دلیل و چې له پوتین سره تر لیدو وروسته یې اعلان وکړ چې دغه لیدنه ښه پیل و. (سرچینه: نن روسیه، ۲۰۱۸ م د جولای ۱۶) د نن روسیې ټلویزیون د اټومي وسلو د له منځه وړلو هوکړه جریان د ددواړو هېوادونو د خبرو اترو د پراخوالي په اړه چې په ۲۰۱۰ کې د واړو لورو تر منځ لاسلیک شوی و او په ۲۰۲۱ کال کې به پای ته ورسېږي، په ژوند ښه خپراوه. ټرامپ په دغه جریان کې اعلان وکړ چې څلور ساعته وړاندې له روسیې سره اړیکې ډېرې ناوړه وې، خو اوس بدلې شوې. هغه څه چې ټرامپ وویل، عامې خبرې دي او د جان بولټون له خبرو سره بشپړې همغږې شوې وې. د سپنې مانۍ د ملي امنیت سلاکار جون بولټون د اې بي يي شبکې په اونیز پرګرام کې وویل: «موږ له روسیې څخه غوښتنه وکړه چې د دواړو ولسمشرانو لیدنه په پرانیستي ډول تر سره شي او هغوی ومنله.» موږ د محسوسو پایلو په هڅه کې نه یو. په روسیه کې د امریکا سفیر هانتسمان هم له ان بي سي ټلویزیوني شبکې سره په خبرو کې وویل: «دغه یوه ناسته نه، بلکې یوه غونډه ده. دغه هغه هڅه ده تر څو ووینو چې د امریکا او روسیې تر منځ شته ګواښونه کمېږي که نه؟. (سرچینه: رویټرز، ۲۰۱۸ م د جولای ۱۶مه)

۵- دغه چارې دا ښیي چې امریکا اوس هم هوډ نه لري چې له روسیې سره اړیکې ښې کړي او د روسیې پر وړاندې د فشار له سیاست څخه ګټه اخلي، خو له اوریا او چین سره د سوداګریزو جګړه په دلیل سره امریکا دې پایلې ته رسېدلې چې روسیې ته په نېږدې کېدو اوریا ووېروي او روسانو ته د هیلې دروازې پرانیزي او له امریکا سره یې اړیکې ښې کړي. دغه ټول کارونه د دې موخې لپاره تر سره شول چې له یوه اړخه چین ته د روسیې د نېږدې کېدو مخه ونیسي او له بل لوري شونې ده چې وروسته د نړیوالو قضیو تر څنګ د امریکا غوښتنې ومني. څنګه چې په سوریه کې یې د امریکا سیاست پلی کړ او په ټول توان یې هڅه وکړه چې په سوریه کې د امریکا مزدور نظام پر پښو ولاړ وساتي.

پر همدغه بنسټ، د دغو لیدنو موخه د ځینو نړیوال قضیو حلول نه وو، بلکې هغه ګرم پیغام و چې چین او اروپایي ټولنې ته ولېږل شو او هغه څه چې له دغې موخې لوړ ښودل شوي، عامې خبرې دي او کومه ځانګړې موخه یې نه درلوده. د دواړو لورو څرګندونې دا واقعیت ښیي؛ څنګه چې ټرامپ وویل: «له پوتین سره په خبرو کې ټول څېزونه شامل وو، له سوداګرۍ نیولې، تر نظامي چارو توغندیو او له چین سره تر سوداګریزې جګړې پورې. لږ به د چین او نېږدې ملګري «شي» په اړه هم خبرې وکړو.» په ورته وخت کې، د روسیې ولسمشر پوتین په هلسینګي کې د خبرو په پیل کې ټرامپ ته په خطاب کې وویل: «اوس د دې وخت رارسېدلی چې د واشنګټن او مسکو تر منځ د اړیکو په اړه خبرې وشي. نوموړي زیاته کړه چې موږ اړ یو چې پېچلې او څو اړخیزې نړیوالې قضیې وڅېړو.» (سرچینه: رویټرز، ۲۰۱۸ م د جولای ۱۶مه) د روسیې د بهرینو چارو وزیر سرګي لاوروف هم په دې اړه وویل: «د هلسینګي په لیدنه کې به پر

ټولو پېچلو موضوعاتو خبرې وشي، هغه موضوعات چې مختلف دريځونه پکې لرو، تر څو پر دې وتوانېږو چې د دغو ستونزو د حلولو لپاره يو کار وکړو. (سرچينه: جزيره نېټ، ۲۰۱۸ م د جولای ۱۶مه)

دغه دغه خبرې دابښيي چې د دغې ليدنې موخه، د نړيوالو ځانګړو قضيو حلول نه وو او دغه مسله د دغو ليدنو له پايلو څخه په ښه ډول ليدل کېږي، هغه پايلې چې په نړيوالو رسنيو کې بحث وربانديې وشو. د بېلګې په ډول: دواړو لورو لپاره د يهودي دولت د امنيت لپاره يو ليدلوری درلودل. ټرامپ وويل: «د اسراييلو امنيت هغه څه دی چې زه او پوتين يې غواړو، زه غواړم چې دغه خبرې په لوړه کچه تر سره شي.» (سرچينه: رويټرز، ۲۰۱۸ م د جولای۱٦مه) همدارنګه دواړو لورو له سوريې څخه وغوښتل چې خپل ځواکونو هغو سيمو ته وګرځوي چې په ۱۹۷۴ يم ميلادي کال او د سوريې سويل تر جګړو وروسته چې د هغه په اړه هوکړه شوې وه. دغه موضوعات نوي نه دي، ځکه امريکا او روسيه ډېر وخت کېږي چې په ښکاره يې اعلانوي، نو دغه مسله دومره جدي نه ده چې د امريکا او روسيې ولسمشران د هغه لپاره له يو بل سره ويني. همدارنګه د دواړو لورو د اټومي وسلو له منځه وړل هم نوې خبره نه ده. ټرامپ وويل: «د اټومي وسلو له منځ وړل هغه بنسټيزه ستونزه ده چې بايد د دواړو لورو (روسيې او امريکا) تر منځ حل شي.» نوموړي له «فاکس نيوز» سره په خبرو کې وويل چې د نړۍ ۹۰ سلنه اټومي وسلې په امريکا او روسيه کې دي او دا په داسې حال کې ده چې د امريکا پخواني ولسمشر بارک اوباما وړاندې تر دې په دې باور و چې د ځمکې ګرمېدل او د حرارت درجه لوړېدل تر ټولو جدي ستونزه ده، چې بايد تمرکز پرې وشي.» (سرچينه: نن روسيه، ۲۰۱۸ م د جولای ۱۷مه)

په همدغه ترتيب هر څوک پر دې پوهېږي چې امريکا او روسيه هېڅ وخت د خپلو اټومي وسلو د له منځه وړلو په موخه له يو بل سره ويني؛ که هر څومره دغه ادعا تکرار کړي. پر همدغه بنسټ د دواړو لورو تر منځ ليدنه په هېڅ ډول په دې موخه نه وه.

٦- د سوريې پر قضيې د دغو ليدنو د اغېزو په اړه ويلی شو چې د سوريې په اړه د روسيې او امريکا په سياست کې هېڅ نوې خبره نه ده مطرح شوې. دواړه دولتونه دا غواړي چې د سوريې انقلاب يو اړخ خيزه شي او دواړو هېوادونو د دغې قضيې اړ خونه وو او په دې اړه همغږي دي چې دغه کار تر سره شي. رښتيا دا دي چې د ۲۰۱۵ م د سپټمبر پر ۲۹ مه کله چې اوباما او پوتين د سوريې د قضيې په اړه له يو بل سره وليدل، روسيه تر اوسه په سوريه کې د امريکا سياست پلی کوي او ټولې چارې له امريکا سره په همغږۍ تر سره کېږي. کله چې روسيې نېغ په نېغه نظامي فعاليتونه تر سره کول، لکه د درعا د ښار بمباري. په همدغه وخت کې امريکا د روسيې پياوړې کول پيل کړل، څنګه چې د سوريې مخالفينو ته يې دا پيغام ورکړ چې امريکا د درعا بريد په اړه له هغوی سره هېڅ ډول مرسته نه کوي. پر همدغه بنسټ، په نظامي ډول د سوريې د قضيې يو اړخ ته کولو په اړه د روسيې د هڅو او د امريکا په واسطه د اسانتياوو برابرولو په اړه په دغه ليدنه کې هېڅ کوم نوی شی مطرح نه شول.

امريکا پرلپسې د سوريې د قضيې سياسي حل لاره څنډوي، څو د روسيې او بشار حکومت پر دې وتوانېږي چې د وسله والو مخالفينو پاکول بشپړ کړي. وروسته به امريکا په مستقيم ډول مخکې شي او د خپلو ګټو پر بنسټ به د سياسي حل لارې بهير مخکې کړي. دا هغه لړۍ ده چې شونې ده روسيه هم ځانګړی رول پکې ولري او يا هېڅ رول ونه لري. په دې ليدنه کې دغې لړۍ ته هېڅ اشاره ونه شوه او دا په دې مانا ده چې امريکا دا هوډ لري چې هغه وځنډوي او يا داسې هوډ لري چې روسيه ونډه پکې ولري او دا هم شونې ده چې دواړه لوري مطرح وي. لېرې نه ده چې روسيه هم دا درک کړي چې په سوريه کې د امريکا د سياست موخه به روسيې ته د ګډون اجازه ورنه

کړي، خو روسان هیله مند دي چې امریکا د اکراین په قضیه کې پر روسیه فشار رانه وړي، په ځانګړي ډول د کریمیې په قضیه کې. ټرامپ د کریمیې د قضیې په اړه د روسیې احساسات مسخره کړل، ځنګه چې مخکې مو هم اشاره ورته وکړه، ځکه امریکا د اوو سترو صنعتي هېوادونو په غونډه کې اعلان کړه چې روسیې د کریمیې جزیره ځکه په خپل هېواد پورې تړلې چې د هغه ځای اوسېدونکي په روسي ژبه خبرې کوي. (سرچینه: نن روسیه، ۲۰۱۸ د جولای ۱۵مه)

دغه مسله د اورپا لپاره ډېره ګواښوونکې ده، ځکه د اورپا په نظر، روسیه د اروپا سرحدونه د ختیځ له لوري ګډوډوي. لېرې نه ده چې روسیه به د ټرامپ پر دغو ځرګندونو وغولېږي او د وحشایه اقدامونو هڅه به وکړي؛ البته عملا یې دغه کار کړی، ځکه روسیې چې د امریکا لپاره د مسلمانانو پر وړاندې کوم جنایتونه تر سره کړي، مسلمانانو ته یې څېره سخته توره شوې او دغه جنایتونه به د امریکا، روسې او مزدورانو پر وړاندې یې د مسلمانانو په حافظو کې د تل لپاره پاتې وي. دا به نه هېروو چې ژوند د بدلون په حال کې دی او دغه جنایتونه به هېڅ وخت بې ځوابه پاتې نه شي.

﴿سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِنْدَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ﴾
[أنعام: 124]

***ژباړه:*** *ډېر ژر به هغه کسان چې ګناه یې کړې وي، الله سبحانه وتعالی سخته سزا ورکړي.*

**۱۴۳۹هـ.ق د ذولقعدې ۸مه**

**۲۰۱۸ م د جولای ۲۱مه**

**ژباړه: بهير «ويار»**